مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۴/۰۱/۰۵

لېونی یمه

ژاړمه چې بېل شمه له تانه لېونی یمه
زه لا هم هماغسې جانانه! لېونی یمه

غیر زما د زړه نه دلته بل ځای د سکون نشته
چېرته رانه تللی شې ایمانه! لېونی یمه

پښې دې چې پلی شوې بیا به لاره رانه بېله کړې
پوه یمه د وخت اندیوال جانه! لېونی یمه

مه ځه د فاني وجود په ځیرې ګرېوانه زما
نور یمه راغلی له اسمانه لېونی یمه

ما خپله اروا پر معنوي ځمکه کرلې ده
نشم نړېدای د وخت توپانه لېونی یمه!

خدایه! چې باور یم، باور اوسم باور پاتې شم
څه به نو دوزخ غواړې له ما نه لېونی یمه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ